# په چک هېواد کې
# د پناه غوښتنه



## د پناه غوښتونکو لپاره معلوماتي پاڼه

که چېرته تاسو خپل هېواد د **تعقیبېدو، تاوتریخوالي**، جدي بشري حقونو **د نقض کېدو یا وسله والې شخړې د** وېرې له امله پرېښی وي او هلته نشئ ستنېدای، **تاسو د پناه غوښتنې (همدارنګه د** نړیوال خوندیتوب **په نوم هم یادېږي) حق** لرئ.

د پناه غوښتونکي په توګه، **تاسو داسې هغه هېواد ته نه شئ استول کېدای چېرې چې ستاسو ژوند یا ازادي له خطر سره مخ وي.**

که تاسو د پناه غوښتنه ونه کړئ، له تاسو سره به د نورو بهرنیانو په څېر چلند وشي. که تاسو معتبر پاسپورت یا ویزه نه لرئ، کېدای شي هغه هېواد ته واستول شئ له کوم ځخه چې راغلي یاست.

# ۱. چېرته او څنګه کولای شم په چک هیواد کې د پناه غوښتنه وکړم؟

## تاسو کولای شئ په یوه نړیوال هوایي ډګر یا په چک کې دننه د پناه غوښتنه وکړئ.

### a. په هوایي ډګر کې د پناه غوښتنه

که تاسو کوم **نړیوال هوایي ډګر** ته را رسیدلي یاست(په ځانګړي توګه **Václav Havel Airport Prague)** او غواړئ چې د پناه غوښتنه وکړئ، **تاسو باید د پاسپورټ په کنټرول برخه کې ژر تر ژره د پولیسو افسر ته خبر ورکړئ.** په روښانه توګه تشریح کړئ چې ولې غواړئ د پناه غوښتنه وکړئ. مهمه ده چې رښتیا ووایاست. د پولیسو افسر باید تاسو ته د راتلونکو ګامونو په اړه معلومات درکړي ترڅو تاسو وکولای شئ په رسمي ډول غوښتنه وکړئ. که چېرې تاسو یو شفاهي ژباړن ته اړتیا لرئ، نو کولای شئ چې د یو غوښتنه وکړئ

کله چې تاسو د پناه غوښتنه وکړه او لومړنۍ کتنې بشپړې شوې، **تاسو به د هوایي ډګر په ترانزیت برخه کې د منلو مرکز ته یوړل شئ.** ستاسو د پناه غوښتنه به هلته بشپړه شي.



د پناه غوښتنه تل په دې معنا نه وي چې تاسو به وکولای شئ په چټکۍ سره چک ته داخل شئ.

په ځینو مواردو کې کېدای شي ستاسو د پناه غوښتنه **د هوايي ډګر د معلوماتو په مرکز کې و ارزول شي**. دا یو بند مرکز دی. تاسو د حقوقي سلا مشورې حق لرئ.

## b. په چک کې دننه د پناه غوښتنه (که تاسو د مخه دې هېواد ته داخل شوي یاست)

که تاسو د مخه چک هېواد ته داخل شوي یاست، کولای شئ د بهرنیانو اړوند د پولیسو مرکز د معلوماتو په مرکز **Zastávka u Brna** کې په Zastávka ،Havířská 514، پته د مرکز په شاته لوري دروازه کې نوم لیکنه وکړئ.

تاسو همدارنګه کولای شئ **د بهرنیو وګړو اړوند د پولیسو په مرکز** کې نوم لیکنه وکړئ. پولیس به وروسته تاسو Zastávka u Brna کې د معلوماتو مرکز ته راجع کړي تر څو ستاسو د پناه غوښتنې پروسې ته دوام ورکړئ.

که پولیسو تاسو ودرولئ او تاسو معتبر پاسپورټ یا ویزه نه درلودله، کېدای شي تاسو د بهرنیانو لپاره په ځانګړي توقیف ځای کې وساتل شئ. په دې صورت کې، تاسو کولای شئ له نیول کېدو څخه ۷ ورځې وروسته د پناه غوښتنه وکړئ.

د پناه غوښتنه **په دې معنا نه ده چې تاسو به په سملاسي توګه د توقیف له مرکز څخه خلاص شئ.** چارواکي به لومړی ستاسو د پناه غوښتنې دلایلو ته کتنه وکړي.

تاسو حق لرئ چې په محکمه کې خپل د توقیف کېدو پرېکړه وننګوئ.

# ۲. که چېرته زه د اروپايي ټولنې په یوه هېواد کې د پناه غوښتنه وکړم، څه به وشي؟


## تاسو معمولا نشئ کولای د اروپايي ټولنې (UE) یو هېواد انتخاب کړئ چې هلته د پناه غوښتنه وکړئ. ځینې مقررات موجود دي چې د هغوی له مخې پرېکړه کېږي چې د اروپايي ټولنې کوم هېواد به ستاسو د پناه غوښتنې مسوول وي.


**د کورنۍ یو ځای کېدل** مهم دي. که تاسو په کوم بل اروپايي هېواد کې د کورنۍ نږدې غړی لرئ، چارواکو ته ووایاست. همداراز، که چېرته تاسو د مخه په کوم بل اروپايي هېواد کې اوسیدلي یاست یا مو هلته سفر کړی وي، چارواکو ته ووایاست. که چېرته د اروپايي ټولنې کوم بل هېواد ستاسو د قضیې مسوولیت لري، **تاسو به هغه هېواد ته ولېږدول شئ.**

# ۳. د پناه غوښتنې د کړنلارې لومړني ګامونه کوم دي؟









۱.
پولیس به لومړی ستاسو هویت تایید کړي، د بېلګې په توګه هغوی به ستاسو د ګوتو نښانونه او انځور واخلي.

۲.
تاسو به د معلوماتو مرکز ته لاړ شئ تر څو د پناه غوښتنې لومړني پړاوونه بشپړ کړئ. تاسو به د نوم لیکنې فورمه بشپړه کړئ او د هویت پېژندنې او طبي ارزونې به مو ترسره شي. چارواکي به ستاسو د پاسپورت یوه کاپي واخلي، که یې له ځان سره لرئ.

۳.
تاسو به د پناه غوښتونکو لپاره د هویت یو کارت ترلاسه کړئ.

٤.
وروسته به تاسو د پناه غوښتنې یوې مرکې ته ور وبلل شئ. تاسو کولای شئ د خپلې قضیې د ملاتړ لپاره اسناد درسره راوړئ. تاسو به د دې پړاوونو په جریان کې یو ژباړن ولرئ.

## ٤. ایا کولای شم د پناه غوښتنې کړنلارې پر مهال مرسته ترلاسه کړم؟

تاسو حق لرئ چې د پناه غوښتنې په هره برخه کې **په وړیا توګه حقوقي سلا مشوره** ترلاسه کړئ. وکیلان په منظم ډول د معلوماتو او استوګنې له مرکزونو څخه لیدنه کوي. تاسو کولای شئ زموږ د شریکانو او نور مهم د اړیکو معلومات لاندې یا په مرکز کې وموم‌ئ.

وکیلان کولای شئ د پناه غوښتنې کړنلاره او ستاسو حقونه درته تشریح کړي او ستاسو پوښتنو ته ځوابونه ووایي. هغوی کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي تر څو د مرکې لپاره چمتو شئ. که چېرته ستاسو غوښتنه رد شوه، هغوی کولای شي له تاسو سره د بیاکتنې د غوښتنې په ترتیبولو کې مرسته وکړي. په ځینو مواردو کې هغوی همدارنګه کولای شي له تاسو سره ستاسو د پناه غوښتنې مرکې ته لاړ شي یا ستاسو په محکمه کې ګډون وکړي.

## ٥. UNHCR څنګه کولای شي له ما سره مرسته وکړي؟

UNHCR پر دې مکلف دی چې په ټوله نړۍ کې له کډوالو او بې هېواده وګړو سره مرسته وکړي. UNHCR د پناه غوښتنې پر پروسېجرونو نظارت کوي تر څو ډاډ حاصل کړي چې پناه غوښتونکي انصاف ترلاسه کوي او قضیه یې په سمه توګه څېړل کېږي. په چک کې UNHCR له حکومت سره په ګډه کار کوي تر څو پناه غوښتونکو ته معلومات ورکړي او له هغو همکارو بنسټونو سره هم مرسته کوي کوم چې پناه غوښتونکو ته وړیا حقوقي مرسته چمتو کوي.

په ځینو مواردو کې UNHCR کېدای شي د پناه غوښتنې په مرکه کې حاضر وي او د قضیې دوسیې ته کتنه وکړي تر څو معلومه کړي چې د پناه غوښتنې پروسه چېرته رسېدلې ده (که تاسو هوکړه وکړئ).

تاسو همدارنګه کولای شئ له UNHCR سره د بریښنالیک له لارې په هر وخت کې ستاسو د پناه غوښتنې د پروسېجر پر مهال اړیکه ونیسئ.

# ٦. څنګه کولای شم د پناه غوښتنې د مرکې لپاره چمتو شم؟



## په معیاري کړنلاره کې دوه ګامونه موجود دي، د کورنیو چارو وزارت د پناه غوښتنې او کډوالو د پالیسۍ ډیپارټمنټ یو افسر به له تاسو سره لاندې پوښتنې مطرح کړي:

١. لومړۍ مرکه لنډه ده او د دې لپاره ترسره کېږي حې ستاسو د پناه غوښتنه ثبت شي. له تاسو څخه به حک ته ستاسو د سفر اړوندي لومړنۍ پوښتنې مطرح شي او هغه دلایل به درڅخه وپوښتل شي حې له مخې یې تاسو خپل هېواد ترک کړی دی.

٢. دویمه مرکه کېدای شي څو ساعته وخت ونیسي. له تاسو څخه به ستاسو د ژوند په اړه او دا چې ولې مو خپل هېواد پرېښود او څنګه نشئ کولای بېرته ستانه شئ، مفصلې پوښتنې مطرح شي. کېدای شي له تاسو څخه همدارنګه ستاسو د کورنۍ، دندې او نورو شخصي مسایلو په اړه پوښتنې مطرح شي.

**مرکه ډېره مهمه ده. تاسو کولای شئ له یوه وکیل څخه د مرستې غوښتنه وکړئ تر څو په چمتو کېدو کې درسره مرسته وکړي.** په ځینو مواردو کې کېدای شي وکیل هلته له تاسو سره حضور ولري. په ځینو وختونو کې کېدای شي نورې مرکې هم درسره وشي.

مهمه ده چې تاسو د امکان تر کچې زیات معلومات او جزئیات د خپل هېواد د پرېښودو د دلایلو او وېرو په اړه وړاندې کړئ. چمتو اوسئ چې هر هغه اسناد او شواهد وړاندې کړئ کوم چې ستاسو له غوښتنې سره مرسته کولای شي.

**هر څه چې تاسو وایاست دا محرم دي، له همدې امله د خپلې شخصي مخینې او خپل سفر د کیسې په بیانولو کې هېڅ وېره احساس نه کړئ. د چک هېواد چارواکي به ستاسو هېڅ معلومات ستاسو له اصلي هېواد سره شریک نه کړي.**

تاسو حق لرئ چې د مرکې پر مهال ژباړن ولرئ. که تاسو د ژباړن پر ژبه پوهېدو کې ستونزه لرئ، په مهربانۍ سره ژر ووایاست.

ستاسو مرکه به د افسر له لوري ثبت شي او تاسو هم کولای شئ هغه ثبت کړئ. تاسو کولای شئ د مرکې پر مهال هر وخت د وقفې غوښتنه وکړئ.

د مرکې په پای کې به له تاسو څخه پوښتنه وشي چې ایا تاسو غواړئ د خپلې مرکې لیکلې بڼه ترلاسه کړئ او که نه. موږ سپارښتنه کوو چې همداسې وکړئ، ځکه چې دا به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو خپل ځوابونه روښانه کړئ. تاسو همدارنګه حق لرئ چې د لیکلې ثبت شوې بڼې یو عکس واخلئ. دا به ستاسو او ستاسو د وکیل لپاره ګټور وي.

# ۷. د پناه غوښتنې د پروسې پر مهال چېرته اوسېدای شم؟

کله چې له تاسو سره مرکه ترسره شوه، تاسو کولای شئ پریکړه وکړئ **چې استوګنځی درکړل شي یا په خپل لګښت په کوم بل ځای کې** و اوسېږئ. که تاسو استوګنځي ته اړتیا لرئ، تاسو ته به د پناه غوښتونکو لپاره د چک هېواد د استوګنې له درې مرکزونو څخه یو مرکز ځانګړی شي.

**که تاسو پریکړه وکړئ چې بل چېرته و اوسېږئ، له تاسو څخه به غوښتنه وشي چې خپله پته چارواکو ته** ورکړئ تر څو هغوی وکولای شي ستاسو د پناه غوښتنې د پروسې تعقیب لپاره اړیکه درسره ونیسي.

په ځینو واردو کې کېدای شي تاسو مکلف وئ په هغه مرکز کې و اوسېږئ چې ستاسو لپاره د کورنیو چارو وزارت له لوري ځانګړی شوی دی. تاسو به د خپلو حقونو او مکلفیتونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

# ۸. د پناه غوښتنې پر مهال زما حقونه او مکلفیتونه څه دي؟


## ستاسو حقونه

- د پروسېجر پر مهال په چک هیواد کې پاتې شئ
- د اړتیا په صورت کې، لومړني امکانات، خواړه او مالي ملاتړ ترلاسه کړئ
- لومړنی طبي پاملرنه ترلاسه کړئ
- د خپلې غوښتنې له سپارلو ٦ میاشتې وروسته کار وکړئ
- د ژباړن غوښتنه وکړئ
- د وړیا حقوقي مرستې غوښتنه وکړئ
- له UNHCR سره اړیکې ونیسئ
- د اړتیا په صورت کې ځانګړې مرسته ترلاسه کړئ

## ستاسو مکلفیتونه

- له چارواکو سره بشپړه همکاري وکړئ
- څومره چې په یاد لرئ، حقیقت ووایاست
- په لیدنو کې مو ګډون وکړئ
- د پناه غوښتنې د پروسې پر مهال له حک یا ستاسو لپاره ځانګړي شوي ځای څخه له وتلو ډډه وکړئ (که د پلې کېدو وړ وي)
- د بدلونونو په اړه چارواکو ته کره د اړیکو معلومات حمتو کړئ (لکه د استوګنې ځای او داسې نور.)
- د خپلې غوښتنې د ملاتړ لپاره ټول اسناد وړاندې کړئ
- د حک قوانین تعقیب کړئ
- ډاډ حاصل کړئ چې تر ۵۱ کلنۍ پورې ماشومان ښوونځي ته ځي

# ۹. پریکړه ترسره کول به څومره وخت ونیسي؟




د کورنیو چارو وزارت معمولا ستاسو د غوښتنې په اړه په **٦ میاشتو** کې پریکړه ترسره کوي.

ځینې وختونه پروسه تر دې ډېر وخت نیسي. که داسې وشي، چارواکي به تاسو ته خبر درکړي.

د دې برعکس په ځینو مواردو کې کېدای شي پرېکړه تر دې ژر وشي، د بېلګې په توګه که چېرته تاسو د هوايي ډګر د پذیرش په مرکز کې توقیف شوي یاست یا هلته اوسېږئ، تاسو باید د **۲۱ اونیو** په جریان کې پرېکړه ترلاسه کړئ.

# ۱۰. که زه خوندیتوب ترلاسه کړم څه به وشي؟

**که چېرته چارواکو ته معلومه شي چې خپل هېواد ته ستاسو د نه ستنېدو وېره پر ځای ده، تاسو ته به پناه یا اضافي خوندیتوب درکړل شي.**

- که حېرته تاسو ته **پناه درکړل شي (د کډوال په توګه وپېژندل شئ)**، تاسو به د ۳ کلونو لپاره په حک هېواد کې د استوګنې اجازه ترلاسه کړئ. د پناه غوښتنې وضعیت کېدای شي تمدید شي.
- که چېرته تاسو ته **اضافي خوندیتوب** درکړل شي، تاسو به لږ تر لږه د یوه کال لپاره په چک هېواد کې د استوګنې اجازه ترلاسه کړئ. د اضافي خوندیتوب موده کېدای شي تمدید شي.

په دوارو صورتونو کې تاسو کولای شئ د ادغام له ملاتړ څخه ګټه واخلئ. په دې کې د ۲۱ میاشتو لپاره د ادغام مرکزونه، د چکي ژبې د زده کړې، د دندې موندلو مرسته او له ټولنیز کارکوونکي څخه د ملاتړ ترلاسه کول شامل دي.

ستاسو د کورنۍ نږدې غړي حق لري چې له کورنۍ سره د یو ځای کېدو غوښتنه وکړي تر څو په چک کې له تاسو سره یو ځای شي.

# ۱۱. که چېرته زما غوښتنه رد شي، څه به وشي؟

**که حېرته ستاسو د پناه غوښتنه رد شي، تاسو حق لرئ حې له ۱۰ یا ۱۵ ورځو په موده کې په محکمه کې د بیا کتنې غوښتنه ثبت کړئ** (ستاسو په قضیې پورې اړه لري). یو وکیل له تاسو سره د بیاکتنې د غوښتنې په ترتیبولو کې مرسته کولای شي.

## ګټورې اړیکې

له کړوالو سره د مرستې بنسټ (OPU)
دفترونه په پراګ، برنو، پلزن، هرادېک، کرالو، اوستراوا کې
برېښنالیک: pravni@opu.cz
ټلیفون.: 781 158 730 420+
وېب سایټ: www.opu.cz/en

پلټونکی یا وکیل (د عامه حقوقونو مدافع)
برېښنالیک: podatelna@ochrance.cz
ټلیفون.: 888 542 542 420+
وېب سایټ: www.ochrance.cz/en

په چک کې (UNHCR)
برېښنالیک: contact_czechia@unhcr.org
ټلیفون.: 832 050 800 (له لګښت پرته)
وېب سایټ: help.unhcr.org/czech/

UNHCR
The UN Refugee Agency

www.unhrc.org